# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲۴۲ ګڼه / یکشنبه ۲۸ محرم‌الحرام ۱٤٤٥ هـ.ق / ۲۲ اسد ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۳ اگست ۲۰۲۳ میلادي


## مجاهد: افغانستان خانه‌ی همه افغانهاست

زلمی خلیلزاد، نماینده پیشین امریکا برای افغانستان در اظهارات تازه‌اش از مقام‌های نظام پیشین خواست است که دوباره به افغانستان برگردند. "کسانی‌که در نظام گذشته افراد مهم بودند، باید دوباره به افغانستان برگردند، زیرا عفو عمومی اعلام شده است و هیچ تهدیدی متوجه آنان نخواهد بود، چنانچه هم اکنون حامد کرزی وداکتر عبدالله عبدالله در آنجا حضور دارند." اینکه آیا برای بازگشت این افراد واقعا تهدیدی وجود ندارد؟ ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی درصحبت با رادیو کلید این گونه پاسخ می‌دهد: "امارت اسلامی از قبل تاکید کرده است که افغانستان خانه همه افغان‌هاست و امنیت آنان تامین خواهد بود. وقت عقده گشایی‌ها و مخالفت‌ها گذشته و نتیجه هم نخواهد داشت. افغانستان زمانی پیشرفت خواهد کرد که مردم اش هم‌فکر و یکپارچه باشند و وحدت ملی را اهمیت بدهند." با این حال ص۵

### ملاعبدالغني برادر:
## افغانستان کې داخلي او بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره شوې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په ترځ کې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې وویل، چې په افغانستان کې د واحد مرکزي نظام په راتلو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیانو ته هم د پانګونې زمینه برابره شوې ده. په یاد کنفرانس کې ملا عبدالغني برادر اخوند دغه راز زیاته کړه، چې الله تعالی پر افغانانو رحم وکړ او له شل کلن اشغال څخه یې خلاص ۵مخ

### مولوي عبدالسلام حنفي:
## دیني عالمان د اسلامي نظام د ستنو د پیاوړتیا په برخه کې ستر مسؤلیت لري



د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ورمه ورځ د جوزجان له یو شمېر دیني عالمانو او مجاهدینو سره وکتل. ارګ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دغه کتنه کې د یاد ولایت دیني عالمانو او مجاهدینو د دې ولایت د خلکو اجتماعي، امنیتي او اقتصادي مسایل د ریاست الوزراء اداري معاونیت له مقام سره شریک او د ښوونې او روزنې، دیني مدرسو، مواصلاتي لارو او روغتیا برخو اړوند موضوعاتو په اړه یې خبرې وکړې او د اسلامي امارت له مسوولینو یې وغوښتل چې یادو برخو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. ورته مهال مولوي عبدالسلام حنفي د اشغالګرو پر وړاندې جهاد او د اسلامي نظام د استقرار په برخه کې د جوزجان ولایت د دیني عالمانو او مجاهدینو رول وستایه او ویې ویل، دیني عالمان د اسلامي نظام د ستنو د پیاوړتیا په برخه کې ستر مسؤلیت لري. د ریاست الوزراء اداري مرستیال ۵مخ

## حقاني به تکمیل شدن پروژه های نیمه تمام تاکید نمود



سرپرست وزارت امور مهاجرین هنگام تهداب گذاری کار ساخت یک مسجد درپکتیا گفت: کوشش می نماییم همه پروژه های نیمه تمام در آن وزارت را درهماهنگی با ادارات ذیربط تکمیل نمایم. الحاج خلیل الرحمن حقانی هنگام تهداب گذاری ساخت مسجد اقصی در ولسوالی شواک پکتیا از مردم خواست که باروحیه ص۵

## قرغزستان غونډه کې د افغانستان پر ملاتړ بیا ټینګار شوی

د افغانستان لپاره د امریکا او منځنۍ اسیا د پنځو هېوادونو استازو د افغانانو د ملاتړ او سیمه کې د ټیکاو او امنیت لپاره د امریکا او دغو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ له شته فرصتونو څخه پر ګټې اخیستنې ټینګار کړی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان په اړه د قزاقستان په پلازمېنې آستانه کې د قرغزستان، تاجیکستان، ترکمنستان، ازبیکستان او امریکا د ځانګړو استازو د تېرې اوونۍ د هغې ځانګړې غونډې اعلامیه خپره کړې چې پکې پر سیمه د افغانستان د اوسني وضعیت ۵مخ




### اترا اداره:
## ۱۲ ولسوالیو ته مخابراتي خدمات رسول شوي

په شمال زون کې د اترا اداري آمر حافظ محمد ثابت نعماني ویلي؛ چې د بلخ، جوزجان، فاریاب او سرپل ولایتونو د اوسېدونکو په غوښتنه یې د یادو ولایتونو په ۱۲ ولسوالیو او ۲۴ هغو کلیو کې مخابراتي شبکې وصل کړې، چې خلک یې د مخابراتي شبکو د کمزورۍ او یا نشتوالي له کبله ستونزو سره مخ وو. نوموړي زیاته کړې، د یاد امریت په هڅو مسولین توانېدلي، چې د تېرو دوو میاشتو په موده کې د یادو ۵مخ



## د خورو نړیوال پروګرام له اقتصادي پلوه د افغان مېرمنو ملاتړ ته دوام ورکوي

د خوړو نړیوال پروګرام وایي له خپلو نړیوالو همکارانو سره په افغانستان کې د ښځو د پیاوړتیا لپاره کار کوي. دغه پروګرام پرون په یوه ټویټ کې ویلي، چې د ښځو لپاره د ګنډلو ماشینونه جوړوي او په دې برخه کې ورسره مرسته کوي، څو له دې لارې خپلې کورنۍ تمویل کړي. د یادې اداري پر ټوېټرپاڼه لیکل شوي چې دوی افغان مېرمنو ته د ګنډلو بېلابېل ماشینونه ورکړي دي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، افغان مېرمنې له دې لارې



کولای شي خپلې اړتیاوې پوره او کورنۍ یې تمویل کړي. په همدې حال کې په افغانستان کې د خوړو د نړیوال پروګرام ویاند وحیدالله اماني ویلي، چې د خوړو نړیوال پروګرام په راتلونکو شپږو میاشتو کې یو میلیارد ډالرو مرستو ته اړتیا لري، چې د ژمي په درشل کې له اړو کسانو سره مرستې وکړي. د ملګرو ملتونو له خوا د خپرو شویو شمېرو له مخې، په افغانستان کې د اړو کسانو شمېر له ۲۹،۲ میلیونو څخه اوښتی دی.

---

عدالت ترمیمی از دیدگاه اسلام صفحه ۲

اسلام انسان ته انسانیت ورښیي ۳ مخ

د اسلام اتل علي رضي الله عنه ٤ مخ

---

### سرمقاله

## ستونزې په ګډه هوارېدای شي

جوته ده چې یو شمېر لاسوهونکي هېوادونه په افغانستان کې د خپلواک او پر ځان بسیا نظام زغم نه لري، نو په مختلفو بڼو هڅه کوي چې افغانانو ته ستونزې راپیدا کړي او د پرمختګ لپاره ورته خنډونه ولټوي، خو د هېواد مېړني او رښتیني بچیان تل په هېوادني مینې توانېدلي د لاسوهونکو تمه په سیند لاهو کړې او په هېواد کې د ښې راتلونکې لپاره لاره هواره کړې مسئولینو، د ستونزو پر وړاندې له زغم څخه کار اخیستل او د شتو امکاناتو څخه د زیاتو لاس ته راوړنو لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې را په ګوته کوي چې ډېر ژر به پر ستونزو برلاسی شو.

همدا اوس په ادارو کې د سمسمکي د راوستو په مخه هڅې روانې دي او هغه جرړې په ټولېدو دي چې په کارونو کې د روښتوب مخه نیسي همدا وجهه ده چې زموږ د کورنیو عوایدو کچه لوړه شوې او دولتي بودجه له کورنیو عوایدو څخه تمویل شوې ده. هېوادوال باید وپوهېږي چې د اسلامي امارت له واکمنۍ سره سم اشغالګرو هېوادونو خپلې مالي مرستې بندې کړې او د افغانانو شتمنې یې د نړیوالو اصولو خلاف کنګل کړې ده. اشغالګرو هېوادونو نه یوازې زموږ شتمني کنګل کړې، بلکې د بانکي سیستم په راکړه ورکړه کې یې د بندیزونو له امله پوره زیان رارسېدلی دی. مناسبه به وي چې هېوادوال او ترڅنګ یې بې پرې هېوادونه چې د سیمې او نړۍ د هېوادونو له سوله ییز بهیر سره لېوالتیا لري قضاوت وکړي ترڅو د بندیزونو او لاسوهنو سره سره ۵مخ

## حلیمي: له دې وروسته به د کانکور ازموینې په انلاین بڼه اخیستل کېږي



د افغانستان د ازموینې ملي ادارې مسولین وایي، په راتلونکي کې به په ټول هېواد کې د کانکور ازموینه په انلاین بڼه واخیستل شي. د ازموینو د ملي دارې د ازموینې اخیستلو کمېټې مشر پوهنیار محمد حلیم حلیمي دغه څرګندونې په ارزګان کې د کانکور د ازموینې اخیستلو ۵مخ

## کندهار کې ۳۰ نویو کارخونو فعالیت پیل کړی

د کندهار د صنعت او سوداګرۍ خونې ریاست وایي، چې په دغه ولایت کې د اسلامي امارت په راتګ سره ۳۰ نویو کارخونو فعالیت پیل کړی دی. د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ رئیس سید محمد سرور اماني د باختر آژانس سره په مرکه کې وویل، چې په دغه ولایت کې ۳۰۰ کارخونو جوازونه اخیستي، خو له جملې څخه یې ۱۸۰ فعالې دي، چې په کې شاوخوا ۴ زره ۵۰۰ کسانو ته په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. اماني زیاته کړه، چې په تېرو وختونو کې ۱۵۰ کارخونو فعالیت کاوه، چې د اسلامي امارت په راتګ سره ۳۰ نورو کارخونو هم په فعالیت پیل کړی دی. نوموړي وویل، په صنعتي پارک کې د سنوفارما د دوا جوړولو سترې فابریکې ۵مخ

## فراه کې جومات ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د فراه ولایت د مرافعې محکمې په ریاست کې د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله په ځانګړې لارښوونه یو جومات جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یاد جومات د ګټې اخیستنې مراسمو کې د فراه والي ملا نور محمد روحاني، مرافعې محکمې د رئیس مولوي محمد ګل صیاد، امنیه قومندان مولوي عبدالظاهر خادم او ګڼ شمېر نورو مسوولینو ګډون کړی و. د مسوولینو په وینا، دغه جومات د یو میلیون او ۱۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړ شوی، چې په یوه وخت د ۱۳۰ لمونځ کوونکو د ځایولو وړتیا لري.

### ریاست احصائیه و معلومات:
## به منظور ایجاد سهولت نمایندګی خود را در ریاست پاسپورت ایجاد می کنم




ریاست احصائیه ومعلومات به منظور ایجاد سهولت برای متقاضیان پاسپورت' دفتر نمایندگی خود را در ریاست پاسپورت ایجاد میکند. این در حالی است که متقاضیان پاسپورت برای تائید تذکره های کاغذی دچار ص۵

# اگر، بدیع الزمان بن اسماعیل الجزری، نمی‌بود، امروز جهان، ربات و هوش مصنوعی را نمی‌شناخت

**عبدالخالق صارم**

اگر امروز جهان به خود می بالد که تکنولوژی و فن آوری ربات یا انسان مصنوعی را، اختراع نموده است و بشریت در آستانه گام گذاشتن در عصری که آن را ( عصر ربات ها) نامیدند، قرار دارد.

دانشمندان اسلامی ما می گویند که آغاز ربات سازی، از تمدن اسلامی ما نشئت نموده است. یکی از این دانشمندان و مخترعین، بدیع الزمان بن اسماعیل الجزری، بود. بدیع الزمان بن اسماعیل الجزری، کیست؟ او، ریاضی دان، مخترع، صنعت گر، مهندس مکانیک، مخترع ربات و... از آل ارتق، عصر خلافت عباسی بود که در حدود سال ۵۳۰ هجری قمری، در جزیره ابن عمر، در دیار بکر که در جغرافیای امروزی در ترکیه قرار دارد، تولد گردید و در سال ۶۰۲ وفات نمود. او کتاب خود را ( الجامع بین العلم والعمل النافع فی صناعة الحیل) به فرمان ناصر الدین محمود بن محمد، از فرمانروایان اُرتُقی، نوشت. ارتق‌ها خانواده ترکمن از تبار ارتق بودند که حکوکت مستقل کم‌دوامی در ناحیه‌ی بکر، داشتند و جزری این کتاب را در سال ۶۰۲ هجری به فرمان «قرا ارسلان» امیر سلسله آرتوقلو در دیاربکر آناتولی تألیف نمود.

**بدیع الزمان الجزری، پدر رباتیک جهان.**

أو نخستین ربات متحرک را اختراع نمود که به دو نمونه آن اشاره می کنیم:

۱- ربات پیشخدمت برای وضوء گرفتن.

سلطان، از بدیع الزمان تقاضا نمود تا وسیله ای برایش بسازد که هرگاه می خواست برای نماز، وضوء بگیرد، بجای خدمتکاران، این وسیله برایش خدمت کند. بدیع الزمان الجزری نیز، رباتی برای وضوی سلطان قبل از نماز، طراحی نمود. طرز کار این ربات چنین بود که این ربات به شکل کودک انسان و از جنس مس ساخته شده بود که یک آفتابه برنجی، شبیه طاووس را در دست راست داشت و درون آن محفظه ای قرار داشت که توسط یک صفحه فلزی به دو قسمت تقسیم شده بود تا به ریختن یکنواخت آب از دهانه کمک کند. مخزنی که آب در آن نگهداری می شد در سمت راست ربات قرار داشت و یک محور نیز در آرنج سمت راست ربات تعبیه شده بود تا مایع از مخزن از طریق دهانه آفتابه بریزد. دست چپ ربات، شانه و آیینه و روی پاک را نگه می داشت و دارای وزنه ثابتی بود که بازو را بالا و پایین می کرد. و بالای دستار این ربات کودک، پرنده یی بود که هنگام فرا رسیدن وقت نماز، بانگ می زد. در این وقت، خادم سلطان این ربات را حمل می کرد و در کنار لگنی قرار می داد که می توانست مایع را در خود جای دهد. زیرا، بدیع الزمان، ربات را طوری طراحی نموده بود که دارای سیفون توالت (وسیله گردآوری و رهاسازی یکبارهٔ آب) بود که اکنون در تشناب های جدید از آن استفاده می‌شود. سپس خادم دستگیره ای را در پشت ربات میچرخاند که دریچه ای را باز کرده و در نتیجه آب از دست راست ربات به داخل لگن میریخت. هنگامی که مخزن تقریباً خالی می شد مکانیزمی به صدا در می آمد و دست چپ ربات که روی پاک، شانه و آیینه را در دست داشت، به سمت سلطان دراز می شد.

۲- ربات پیشخدمت نوشیدنی.

یکی از ربات های دیگری که بدیع الزمان الجزری، اختراع نموده بود، پیشخدمتی بود که می توانست آب و نوشیدنی را پیشکش کند.

طرز کار این ربات چنین بود که نوشیدنی در یک مخزن ذخیره می‌شد که از آنجا نوشیدنی به داخل سطل می‌چکید و بعد از هفت دقیقه در گیلاس می‌چکید، بعد از آن ربات پیشخدمت از دروازه اتوماتیک بیرون می‌آمد و این نوشیدنی را پیش می کرد.

کتاب بدیع الزمان در سال ۱۹۷٤م توسط دونالد هیل، به انگلیسی ترجمه گردید و بعد از آن ربات سازی، به اروپا راه باز نمود.

**تعدادی از اختراعات دیگر بدیع الزمان الجزری:**

۱- ساعت فیل، که با استفاده از مکانیزم آب، کار می کرد.

۲- ساعت شمعی.

۳ - ساعت قلعه، که آن را نخستین کامپیوتر آنالوگ قابل برنامه ریزی، می دانند.

٤- ساعت دو زمانه، که دو زمان مختلف را با دو عقربه نشان می داد.

۵- مضخة الماء، که آب را ۱۳،٦ متر به بالا پرتاب می کرد و امروز نامش را، واتر پمپ (؟!!) گذاشتند.

٦- دستگاه فواره آب.

۷- وسیله اندازه‌گیری مقدار خون در عمل رگ‌زنی.

۸- قفلی رمزی که با دوازده رمز از حروف الفبای عربی، باز می گردید.

بعد از چند قرن، لئوناردو داوینچی، ایتالیایی، اختراعات اسماعیل الجزری را، انکشاف داده به نام خود ثبت نمود وحتی دستگاه هایی که بدیع الزمان الجزری، در کتاب خود، تشریح کرده، بعد از چند قرن در اروپا به عنوان اختراع جدید ثبت گردیده اند.

طور مثال:

در اروپا نخستین قفل رمزدار را (باترزورث) در ۱۸٤٦م ساخت و جالب اینست که صفحات فنری به کار رفته در قفل ساخت ( باترزورث) به طرز شگفت‌آوری به صفحه‌های قفل جزری شباهت دارند.

برای معلومات بیشتر به کتاب ( التراث العلمی الاسلامی) از أحمد فؤاد باشا، مراجعه گردد.

# عدالت ترمیمی از دیدگاه اسلام

**سمونیار رحمت الله (عیار)**



چکیده: مسلم است که در سایه رفع خصومت‌ها و اختلاف‌ها در جامعه امنیت برقرار می شود. وقتی بین جانی و مجنی‌علیه صلح و آشتی برقرار شود، جانی خود را فردی مطرود از جامعه نمی یابد و احساس هم بستگی با جامعه اطراف خود می کند که همین امر باعث پیش گیری از ارتکاب مجدد جرم به وسیله او می شود. قربانی جرم نیز تصالح و آشتی با مجرم احساس آرامش پیدا می کند و خود را بازنده تلقی نمی کند و از رنج، درد و نگرانی او کاسته می شود. به‌علاوه در سایه اصلاح ذات‌البین که عادلانه و از روی عدالت است، خسارت‌های وارد شده بر او جبران می شود و از نظر روانی و عاطفی هم احساس امنیت و آرامش خاطر می کند. به این جهت است که اسلام تا این حد به اصلاح ذات‌البین و ایجاد صلح بین مردم و رفع کدورت‌ها و دشمنی‌ها اهمیت می دهد و آن را در شرایطی برتر از نماز و روزه می داند و آن را بعد از انجام واجبات برترین و بهترین کار معرفی می کند. از پیامبر گرامی اسلام(ص) نقل شده است: (کسی‌که در راه آشتی دادن دو نفر قدم بردارد، فرشتگان خداوند تبارک و تعالی تا زمانی که بر می گردد، بر او درود می فرستند و پاداش عبادت شب قدر به او اعطا می شود).

مقدمه: عدالت ترمیمی یا غیر رسمی روش جدید اندیشیدن هم در باره جرم و هم در باره چگونگی پاسخ به آن است. عدالت ترمیمی یا غیر رسمی، وسیلهَ در راستای تشویق طرفین دعوا برای حل صلح آمیز اختلافات، توسعه، بهبود، تسامح، احترام به تنوع موجود در جامعه و بالا بردن میزان مسئولیت پذیری جامعه است که سبب جبران ضرر و جلوگیری از خسارات بعدی می گردد.عدالت ترمیمی که هم زمان با احساس نیاز جوامع بشری به قانون و حل و فصل نزاع ایجاد شد، ریشه در فرهنگ جوامع بشری دارد و همیشه در میان جوامع مختلف به طور کم و زیاد وجود داشته است. این طرز تفکر در ابتدا تحت عنوان نظریات تلفیقی جرم شناسی مطرح گردیده که پیشگامان این موضوع جان برایت ویت آسترالیایی، هوارد زهر و تونی مارشال بودند و پس از نهضت متضرر شناسی رشد چشم گیری نمود به خصوص در دهه هفتاد قرن بیست میلادی به صورت علمی مطرح و تحقیقات انبوهی از دانشمندان جرم شناس را در حوزه‌ی جرم شناسی به خود اختصاص داده است.

عدالت ترمیمی در جستجوی آن است که آنچه را که نقض شده است بهبود بخشد:

عدالت ترمیمی در جستجوی ( ایجاد احساس ) پاسخگویی کامل و مستقیم است:

عدالت ترمیمی در جستجوی بازگرداندن وحدت و هماهنگی به آن چیزی است که در نتیجه جرم گسسته شده است:

عدالت ترمیمی در جستجوی تقویت جامعه محلی جهت پیشگیری از زیان جرم در آینده است:

**اصول کلی واساسی عدالت ترمیمی:** اصول کلی واساسی عدالت تر میمی عبارت اند از.

جرم قبل از هر چیز تعدی و تجاوز به روابط میان مردم است نه صرفاً اقدامی علیه دولت، ارتکاب جرم منجر به ایراد ضرر و زیان به متضرر، اجتماع و مجرم می‌شود و آنها باید به صورت فعال در پروسه های اجرای عدالت مشارکت داده شوند.

همه آنهایی که از جرم متأثر شده اند برای مقابله و برخورد جمعی با آثار و نتایج جرم نقش ها، مسئولیت ها و نیاز هایی دارند.

جبران ضرر و زیان، حل و فصل مشکلات ناشی از جرم به منظور حصول به توافق و آشتی و پیشگیری از ضرر های بیشتر.

**روش های اجرای عدالت ترمیمی:** روشهای اجرای عدالت ترمیمی در کشور های مختلف و نیز نزد نویسندگان ومحققان عدالت ترمیمی متفاوت اند. اما روش های شایع اجرای عدالت ترمیمی عبارت است از میانجی گری، نشست، حلقه ها یا محافل (جرگه).

**تعریف اصلاح ذات البینی در اسلام:** اصلاح ذات‌البین به معنی نیکوکردن حالت فاسد و رابطه بدی که بین اشخاص یا گروه‌ها پدید آمده و برطرف‌کردن تیرگی روابط ایجاد شده بین آن‌هاست. به تعبیری دیگر «اصلاح اساس ارتباطات، تقویت و تحکیم پیوندها و از میان بردن عوامل و اسباب تفرقه و نفاق است».در واقع اصلاح ذات‌البین در معارف اسلامی به معنی زدودن اختلاف و نزاع بین افراد و مردم، آشتی دادن آن‌ها و ایجاد صلح و سازش و دوستی بین آن‌ها است که در آیات و روایات متعددی به آن پرداخته و بر آن تأکید شده است.

**اصلاح ذات البینی در قرآن کریم:** خداوند تبارک و تعالی در سوره های (انفال آیه ۱، حجرات آیات ۹و۱۰، بقره آیه ۱۷۸، مائده آیه ٤۵، نساء آیات ۱۱٤و ۱۲۸، مجادله آیات ۹و۱۰و شوری آیات ٤۱، ٤۰و٤۲ ) قرآن مجید مسلمانان را به اصلاح بین مردم امر فرموده و آن‌ها را در اختلافات بین خود توصیه و سفارش به مصالحه کرده و صلح را برتر و بهتر معرفی کرده است. در واقع خداوند متعال هم به اصلاح و ایجاد سازش به مسلمانان امر کرده است و هم طرفین اختلاف و منازعه را به سازش و مصالحه توصیه و سفارش نموده است.

بنابراین عدالت ترمیمی که به شکل غیر رسمی و غیر علمی در خصوص رسیدگی به جرایم در افغانستان رایج است و به صورت ضمنی از جانب نهادهای عدلی و قضایی حمایت می-شود، با این حال موجودیت آن به حق که باعث کاهش دوسیه‌های تحت کار مراجع عدلی و قضایی گردیده و در نتیجه موجب کاهش جمعیت زندانیان می‌گردد. زیرا برخلاف جوامع پیشرفته که عدالت ترمیمی صرفاً در جرایم خلاف (قباحت) و کم اهمیت جنحه کاربرد دارد، در افغانستان تمام انواع جرایم جنایی، جنحه و قباحت شامل قتل، ضرب و جرح منجر به مرگ، سرقت های بزرگ و غیره از طریق جرگه‌های قومی حل و فصل گردیده و شامل پروسه رسمی عدلی و قضایی نمی‌گردد که در نتیجه گراف رسمی ثبت جرایم کاهش قابل ملاحظه را نشان داده و در نهایت سبب کاهش جمعیت زندان‌ها می‌گردد.

**منابع و مآخذ**

قرآن کریم

الراغب، الاصفهانی، المفردات فی غریب القرآن، ٤۰٤ ه ق، جلد ۱و۲، چاپ ۲، الطبع الثانی نشر:انتشارات کتاب.

الشریف الرضی، نهج البلاغه، تحقیق صالح، ۱۳۹۵ ه ق، قم: ایران، انتشارات هجرت.

زهر،هوارد، کتاب کوچک عدالت ترمیمی، مترجم، حسین، غلامی ،۱۳۸۳، چاپ اول، تهران، نشرمجمع علمی وفرهنگی مجد.

عباسی، مصطفی، افق های نوین عدالت ترمیمی در میان جگری کیفری، ۱۳۸۲، چاپ اول، تهران، انتشارات خرسندی.

غلامی، حسین، عدالت ترمیمی، ۱۳۹۷، چاث هفتم، تهران، انتشارات سمت.

میرنقی زاده، میرحیدر و اکبر صفری، مقایسه عدالت کلاسیک با عدالت ترمیمی،۱۳۹٦، تهران، فصل نامه علمی حقوقی قانون یار، دوره دوم.

# په فتویٰ ورکولو کې احتیاط!

**عبدالرحمن محمود**

د جاهلیت په دور کې چې کله به په عربو کې اختلاف او جنجال راغی،نو دوی به فیصله پر عامر بن الظرب کوله، دا د دوی قاضي القضاة او د محکمو رئیس وو، مشرک ؤ.

یوار داسې پېښه وشوه چې د یوې اطرافي او دښتي قبیلې څخه وفد ورته راغی او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې په موږ کې یو داسې څوک پیدا شوی چې هم د نارینه او هم د ښځې عضوه لري، دې ته څه ډول میراث ورکړو ؟ ایا د نارینه میراث ورکړو او که د ښځې ؟

عامر بن الظرب حیران شو چې څه جواب ورکړي ، څلوېښت ورځې یې فکر او سوچ وکړ چې څه ورته ووایي او جواب یې هم پیدا نه کړ، وفد هم وربانديې مېلمه دی ، د جواب انتظار کوي او هره ورځ عامر ورته یو یو پسه حلالوي.

په څلوېښتمه ورځ یې خادم چې د ده پسونه یې څرول، هغه ورته وویل چې مېلمنو دې پسونه ټوله درڅخه وخوړل، لږ پاتې دي، عامر ورته وویل چې ته ورځه خپل کار په صحیح توګه کوه، مګر خادم یې ډېر ټینګ شو چې آخر پوښتنه څه ده ؟

عامر ورته وویل چې په یوې داسې ابتلاء کې ولیدلی یم چې هېڅ حل یې نشته ، بیا یې هغه پوښتنه ورته تشریح کړه ، خادم یې ورته وویل چې د بولو لاره یې تعقیب که ، که د نارینه تر عضوې یې کولې نر دی ، او که د ښځې تر عضوې یې کولې ښځه ده.

عامر ورته وویل له مشکله دې خلاص کړم ، بیا یې و هغه وفد ته خبر ورکړ.

امام اوزاعي رحمه الله ددې قیصې په تعقیب کې وایي چې دا سړی کافر و، مشرک ؤ ، نه یې د جنت أمید او نه یې له جهنمه وېره لرله او نه یې د الله تعالی عبادت کاوه ، مګر په یوه مسئله کې یې څلوېښت ورځې توقف وکړ ، نو هغه څوک چې په جنت او دوزخ ایمان لري ایا د هغه لپاره لازمه نه ده چې په فتویٰ کې احتیاط وکړي.

المصدر : البدایة والنهایة لابن کثیر.

# اسلام انسان ته انسانیت ورښیي

**دوکتور اسامه عزیز**

کله به مو د ځینو مرستندویو ټولنو په امبولانسونو او موټرو دا جمله لیدلې وي چې ”د انسانیت خدمت کوو“ او یا به مو د ځینو بهرنیو مرستو په توکو دا لیکل تر سترګو شوي وي چې ”...مملكة الانسانية“ فلانی د انسانیت مملکت او یا داسې نورې جملې. د انسانیت خدمت د ستایلو وړ بلکې لازم کار دی، له داسې جملو سره په عموم کې مخالفت نه دی په کار، خو یو نیم چې دا خبره په کوم باور او مقصد کوي هغه باید تر غور لاندې ونیول شي. لکه یو ځای کې مې عبد الستار ایدهي ته منسوبه یوه جمله تر سترګو شوه چې: ”No religion is bigger than Humanity“ مطلب دا چې تر انسانیت ستر دین نشته. همدا ډول، یو شمېر خلک اسلامیت او انسانیت داسې سره بېلوي چې د اسلامیت پر ځای ”انسانیت“ ته ترجیح ورکوي، وایي موږ د مطلق انسان خدمت کوو پرته له دې چې عقیدې ته یې وګورو. یا وایي باید د اسلامیت له دایرې ”ورپورته“ شو او د ”ټول انسانیت“ لپاره کار وکړو.

هیومنیزم/انسانیت پالنه ځانګړې معلومه نظریه ده، نه غواړم دلته یې د یوې نظریې په حیث یې وڅېړم. دا چې زموږ په ټولنه کې ډېر داسې کسان شته چې په هیومنیزم باور نه لري، ځانونه ټولو اسلامي اصولو ته پابند ګڼي، خو بیا هم په دې ګومان دي چې د انسانیت د خدمت دایره به د اسلامیت له دایرې پراخه وي؛ نو زما بحث یوازې په همدې کې محدود دی.

که د دوی ګومان دا وي چې ګواکې اسلام له مطلق غیر مسلمان سره خیر ښېګڼه نه مني او یوازې د مسلمانانو د مصالحو د خوندیتوب لپاره کار کوي، بیا د همدې اعتقاد په بنیاد د ”انسانیت د خدمت“ په هدف اسلامیت په دوهمه درجه کې راولي؛ نو ښکاره ده چې د دوی نه د اسلامیت په معنی پوره سر خلاص شوی او نه د انسانیت. دلته دوه پوښتنې راپورته کېدای شي: دا چې اسلامیت لوړ دی که انسانیت؟ او دا چې له غیر مسلمان سره د انسانیت پالنې په اړه اسلام څه وایي؟ دواړه جوابونه په اوږده بحث ارزي خو دلته پرې لنډه خبره کوم.

**لومړی:**

که د اسلام طبعیت ته جامع نظر وشي، وبه کتل شي چې اسلامیت له انسانیته پورته درجه ده؛ ټول انسانیت د اسلامیت یو جز دی خو اسلامیت یوازې په انسانیت کې نه راخلاصه کېږي. له اسلامیت پرته انسانیت نیمګړی دی، داسې چې د انسانیت ریښتینې څېره پېژندل او بیا یې په عمل کې کامل احترام له اسلام پرته ناشونی دی. سره له دې چې نن سبا د ډېرو غربي ټولنو حالات دا خبره ډېره ښه انځوروي، خو که د اسلام دا پیغام چې انسان ته وایي ”ستا اصل له بیزو څخه نه بلکې له ختمې څخه دی، رب دې الله دی او له ده پرته چا ته سر مه ښکته کوه“ تر غور لاندې ونیول شي ډېر څه به روښانه شي.

اسلام د انسانانو لپاره د یو مثالي ژوند نظام رامنځته کوي، انسان ته انسانیت ورښیي، له حیوانیت او هغو کړنو یې ژغوري چې له انسانیت سره په ټکر کې وي – ولی که د نورو په نظر داسې نه وي او انساني تمدن یې بولي- د اخلاقو په ګاڼه یې سمبالوي او له نورو مخلوقاتو ارتقا ورکوي، د نفس او مخلوق له غلامۍ یې ژغوري او خپل حقیقي رب ورپېژني، د دنیا او اخرت نېکمرغي یې غواړي، د انسانیت په خدمت کې د ژوند مادي او معنوي/عقیدوي دواړه اړخونه په پام کې نیسي. له اسلامي لارښوونو پرته د انسان مصالح او په ځانګړي ډول معنوي هغه تر پښو لاندې کېږي. نو ویلی شو له اسلام پرته هېڅوک د انسانیت د پوره احترام او خدمت دعوه نه شي کولی.

د ډاکتر ذاکر نایک په وینا، چې ته وایې زه هېڅ دین ته معتقد نه یم او یوازې د انسانیت خدمت کوم او بس، دا داسې مثال لري لکه یو کس چې د ماسترۍ او دکتورا سند پرېږدي او د مکتب یا کالج سند کافي او غوره وګڼي. د نومړي په وینا، عجیبه ده اسلام غواړي تاته د دکتورا سند درکړي خو ته په قصدي ډول خپله علمي سویه راښکته کوې او ځان ته ضرر رسوې! سره له دې چې د ده وینا کافر ته متوجه ده خو د ځینو مسلمانانو لپاره هم د پام وړ پیغام لري.

**دوهم:**

نن سبا د مفاهیمو او مصلحاتو ناسم تفسیر د ډېرو فکري اختلافاتو بنسټیز لامل جوړ شوی. د انسانیت خدمت یو له هغو دی، همدا وجه ده چې یوه ډله یو کار د انسانیت خدمت ګڼي او بله ډله یې د انسانیت ضد، او دواړه د عین شعار د احترام دعوه کوي.

یو شمېر دا ګومان کوي چې ګواکې اسلامي شریعت کې له کافر سره انساني اصول پالل نشته، یا دا چې له مطلق غیر مسلمان سره له ښېګڼې او احسانه ډک چلند نشته.

دا یوه ناسمه انګېرنه ده، د ”انسانیت د خدمت“ په برخه کې په عمومي ډول اسلام د مسلمان او کافر په توپیر نه دی قائل، خو چې په شرعي احکامو کې د انسانیت مفهوم په خپل درست شکل په پام کې نیول شوی وي.




اسلام وایي له هر چا سره باید انساني اصول مراعت شي، بلکې له هغه اسیر سره په نیک او انساني چلند امر کوي چې د جګړې په ترڅ کې مسلمانانو ژوندی نیولی وي. خو د دوستۍ، همدردۍ او خیرښېګڼې په خصوص یې بیا غیر مسلمانان په دوو ډولو وېشلي دي: حربي/جنګي او غیر حربي.

قرآن وایي له حربي کافرو سره به نیکي نه کوئ او خیر ښېګڼه او دوستي به ورسره نه پالۍ؛ ځکه دوی له تاسو (انسانانو) سره ناحقه جګړه کوي، ستاسو د دښمنانو ملاتړ کوي، وژني مو، له کورو مو وباسي او د دین او معتقداتو پرېښودو ته مو مجبوروي، نو له دوی سره نیکي کول پخپله یو ظلم او له انصافه لرې کار دی [الممتحنة:۱، ۹]. خو له دوی سره د نیکۍ او همدردۍ عدم جواز دا معنی نه ورکوي چې ګواکې د تعامل پر مهال ورسره هېڅ انساني اصول مراعت نه شي.

بالمقابل قرآن وایي هغوی چې درسره جګړه او دغسې ناروا وې نه کوي، کولی شئ نیکي ورسره وکړئ، الله مو له دې کاره نه منعه کوي، الله تعالی انصاف او نیکي کوونکي خوښوي. [الممتحنه:۸].

چې داسې ده نو آیا غوره به نه وي چې دا احسان ”د انسانیت د خدمت“ پر ځای د ”اسلامي کړنلارې“ ترعنوان لاندې وشي؟ که داسې وشي شاید نسبتاً ډېر مصلحتونه ترلاسه او د نن سبا ډېرې ستونزې حل شي، لویه ګټه به یې دا وي چې غیر مسلمانان به د اسلام له حقیقته خبر شي، که مسلمان نه شي لږ تر لږه د اسلام له مقابلې خو به لاس واخلي.

وګورئ قرآن کریم چې د خیر ښېګڼې په برخه کې د حربي او غیر حربي ترمنځ کوم توپیر کړی، هغه هم د انسانیت د خدمت او د انصاف د مراعتولو په بنیاد شوی، البته نور اهداف به هم لري. نو هغه غیر مسلمان چې د انسانیت له پولو اوښتي وي او له مسلمانو انسانانو سره هغسې ظلمونه کوي چې په آیت کې ذکر شوي، آیا له هغوی سره د انسانیت پالنې په پلمه همدردي، دوستي او ښېګڼه کول ښېرته له انسانیت سره ظلم نه دی؟ او هغه ”انسانیت پالونکی“ به د انسانیت په حقیقي معنی پوه وي؟!

نو دا باور لرل چې ”انسانیتپالنه د دوستۍ له ټولو پراخه دایره ده“ پرته له دې چې پورتنې اړخونه ورسره په پام کې ونیول شي؛ له عقل او نقل دواړو سره په ټکر کې راځي.

خلاصه دا چې اسلامي احکام له انسانیت سره په ټکر کې نه دي، خو دغه خلک یا د اسلامیت په معنی نه دي پوه شوي، یا د انسانیت د احترام او خدمت په معنی او یا مسلمان ته د ټولو انساني حقوقو څخه د برخمن انسان په حیث نه دي قائل، چې دا هم په انسانیت پېژندنه کې د دوی په نیمګړې پوهه دلالت کوي.

# د دریمې نړیوالې جګړې انګازې!

**خالقیار احمدزی**

په داسې حال کې چې د افغانستان غېږه تازه له یوه لوی اشغاله خلاصه شوې او د امن، پرمختګ او سکون غوټیو ګلونه سپړلي، ورسره سم په نړیواله کچه یو ځل بیا د تربګنیو څپې راخپرې دي او وړاندوینې داښیي، چې دا به د یوې بلې لویې نړیوالې جګړې پیل وي.

افغان مجاهدینو چې له افغانستانه د اشغالګرو ځواکونو څخه د جبر او ستم کمپل ور ټول کړه، سملاسي یې د خپلې سرګرمۍ په خاطر د اوکراین او روسیې ترمنځ د جګړې سپرغکیو ته پوکی ورکړ. د وسلو د خرڅلاو لپاره د یوه بل بازار موندل او د رقیبې روسیې د پوځي ځواک د مالومولو ترڅنګ د یاد هیواد اقتصادي کمزورتیا یې له مهمو موخو څخه وه.

امریکا د خپل خیالي مزدور (زیلنسکي) په مټ روسیه را ونغوله، هغه چې دا هرڅه د خپل مسلک (فلمي کمیډیني) له مخې کتل؛ د سترګو په مخ کې یې د روسیې لخوا د هېواد هسکې ماڼۍ په کنډواله بدلې شوې.

امریکا د ۶۰ میلیاردو ډالرو ورکړل شوې مرسته هم نیمه خپله بېرته هضم کړه او نیمه کې یې وسلې په بدل کې ورکړې؛ پر دې سربېره یې له روسي اشغال څخه د ویرې کمپاین په اروپا کې هم خپور کړ او پر ځینو اروپایي هېوادونو یې هم پرېمانه وسلې وپلورلې.

بلخوا یې افریقا کې مړې شوې سکروټې راپیدا کړې او هلته یې هم پراخه ګډوډې جوړه کړه.

د جنوبي افریقا هېواد یې په خپل منځي اخ وډب اخته کړ او له روسیې سره په همغږۍ یې هڅه وکړه، څو د نیجر، مالي او بورکینا پاسو، په څېر غریبو هېوادونو کې هم د استقلال روحیه پیاوړې کړي.

دغه غریب هېوادونه چې تر ننه پورې یې سره زر او یورانیم د فرانسویانو لخوا تروړل کېدل، په یو ناڅاپي توګه یې د استقلال اعلان وکړ، چې آن ناخبره فرانسوي مشران یې هم ګوته په غاښ کړل.

دا په تېرو څو اوونیو کې پر فرانسه دوهم سیستماتیک برید و، چې د ځینو لویو قدرتونو په همغږۍ پلان سره پرې ترسره شو؛ لومړی هغه یې د دغه هېواد پلازمېنه کې د خونړیو، قهرجنو او لویو مزدحمو لاریونونو ترسره کېدل وو.

که څه هم فرانسې تر ننه د امریکا پر وړاندې هېڅ کوم علني ګام نه دی اخیستی، خو ښایي امریکا نه غواړي په ناټو اتحاد کې هغه څوک پاتې شي، چې د دوی د پرېکړو پر وړاندې ممکنه خنډ هم جوړ کړي.

بلخوا په منځني ختیځ کې د لبنان، سوریې او فلسطین سره د یهودي واکمنو تربګنې زور اخیستی، چې ښایي هلته هم ډېر ژر د یوه لوی داخلي انفجار ځوږ پورته شي.

په سیمه کې د ایران او پاکستان حالات هم ښه نه ښکاري او ورځ تر بلې یې سیاسي تشنج د خطرناک پاڼ پر لور، یون را لنډوي.

امریکا په یوه او بله بهانه چین هم پر جګړو ور ګډوي،کله یې تایوان ورته پړانګ کړی وي او کله هم له فلپین نه ورته بلا جوړه کړي؛ خو هوښیار چین سر ښکته نیولی، په بیغمۍ سره اقتصادي پروژې مخته وړي او دنیا د ځان مدیونه ګرځوي.

آخوا سعودي او ترکیه هم د دوو لویو مسلمانو هېوادونو په توګه په نړیوالو پرېکړو کې هسک سرونه وړي؛ خو ښایي لامل یې د دوی ځراکت او سیاسي ظرافت نه وي.

ښایي دواړه هېوادونه د یهودانو د مرموزې لوبې د ښکار کېدونکو موخو په کتار کې وروستی ځای ولري؛ په دې معنی چې نوبت به ورته رسېږي، خو په لږ ځنډ سره...

افغانستان به داخل هم لکه د تېر په څېر د خیر په غونډۍ ناست وي، یوازې د مظلومو مسلمانو پرګنو د تحفظ دعاګانې به کوي او د هغو غلیمانو د ماتې سیل ته به شیبې شمېري چا چې پرون د یرغلګرې امریکې تر قوماندې لاندې دا وطن کنډ کنډر کړ.

رښتیا! وروسته تر دې چې یاد هېوادونه د اوکراین په برخلیک اخته شي، زموږ تښتېدلي ټامیان به هم ځوړند سرونه بېرته خجالته راستنېږي او په خپلو تېرو کړو به د نصوحا توبې ترڅنګ د اسلامي امارت د واکمنې شکرانه هم ادا کوي.

## د وطن د خلکو مینه

**پیرمحمد کاروان**

پاس پر سر یې په شغ شغ ګرځه شاهینه
غرونه غرونه د وطن د خلکو مینه
کله لمر کله غروب کله سپوږمۍ شي
تکه ژېړه تکه سره او تکه سپینه
د بوډۍ د ټال ګومبزې ته یې یووړم
وه باران اغوستي لمر جوړه مهینه
سور ګلاب یې کړمه تور کافر به نه شم
وابه نه وړم د خوږې مینې له دینه
هیڅ یو ګل یې په ښکلا کې مخی نه دی
ما پوښتلي له نرګس او له نسرینه
په تار تار یې د اخلاص اوښکې پیېلې
د لونګو تر ځوندیو لونګینه
هو د غره ځیږې اوبه یې ترې بولې
خو په لاس لګي د زړه، پسته وریښمینه
د کاروان قلم شو میره د مچیو
مالا ماله د ګلونو له ګبینه

## د آزادۍ وږمه

**استاد ګل پاچا الفت**

پسرلی ؤ تازګي وه غوړېدلي ؤ ګلونه
دګلانو موج کې پټ وو دوطن غرونه رغونه
صحرا ډکه وه له ګلو هر طرف ته لا له زارؤ
ټول وطن ګل وګلزار ؤ هره خوا وه ګلشنونه
لمر لانه وه راختلی شین سحر تازه هوا وه
جونې سیل ته وې وتلې په اوربل اینښي ګلونه
دبهار په ننداره وم نه غمونه نه سودا وه
په آزاده هوا باندې تازه کیږي مړاوي زړونه
دهیچا په قید کې نه وم خومره ښه ښکلې صحراوه
په خپل سر هر طرف تلمه نه وه حکم نه امرونه
بیخودۍ کې تلمه تلمه نا خبره لاړم باغ ته
ښه ګلزار ښایسته ګلشن ؤ خو هرلور ته دیوالونه
نظر بند ؤ مخه بنده لرې لرې کتل نه ؤ
فراخي دزړونو نه وې چې ایثار شي نظرونه
دبیدیا خلق په باغ کې خوشحالي نه شي موندلی
خوښوي دصحرا خلق داوچتو غرو سرونه
یو زه نه وم غوټۍ هم وه په هغه ځای کې دلګیره
بلبلان وو که طو طیان وو کول ټولو فریادونه
چې ناڅاپه له صحرا نه دبهار وږمه پیدا شوه
ونو بو ټو ورته ټیټ کړه په تعظیم باندې سرونه
زړه تنګي له باغه لاړه غوټۍ ټولې په خندا شوې
دازادو صحبتونه لري څه ښه تاثیرونه
چې له باغه وتې نه شي په قفس کې وي که نه وي
ګلستان ورته زندان دی شته زندان کې هم ګلونه

# د اسلام اتل علي رضي الله عنه

**لیکوال عبدالحمید جوده السحار / ژباړن شرر ساپی**




علي مسجد ته رانووت، شوندې یې د علم د هغې خزانې په تورو خوځولوې چې په سینه کې یې پروت دی، سترګې یې هغې دروازې ته وې چې د ده خوږ ملګری معلم، ایډیال، د هغې د خوږې زهراء پلار به ترې ژر راووځي.

قریش له اقتصادي بحران سره مخ شول، ابوطالب ته ډېره کوړمه(بچي) ورپه غاړه وه، رسول اللهﷺخپل تره عباس ته وویل او تره یې په هاشمیانو کې شتمن و:

– ای عباسه، ستا ورور ابوطالب ته ډېر ماشومان ورغاړې دي، خلک له اقتصادي بحران سره مخ دي، ماسره ورشه چې یو څه بچي ترې کم کړو، یو تن به زه ترې واخلم او یو تن به ترې ته واخلې.

عباس وویل:

– سمه ده.

رسول اللهﷺوراندې له دې چې پیغمبر شي او خلکو ته نېک اعمال بشپړ کړي، دا یې هېر نه کړل چې ابوطالب یې د ماشومتوب سرپرستي کړې وه، اوس یې وخت رارسېدلی دی چې سپین ږیري ته یو څه بدله ورکړي، د خپل تره عباس سره د ابوطالب کور ته ورغی، دواړو ورته وویل:

– موږ غواړو چې له تانه دې یو څه بچي واخلو.

– که عقیل زوی راته پرېږدئ او نور چې هر یو اخلئ نو وایې اخلئ.

له هغو څخه چې الله تعالی پرې لورینه کړې وه، یو تن علي بن ابي طالب و، له اسلام وړاندې د رسول اللهﷺپه لاس تربیه شو، د خدیجې بنت خویلد په کور کې رالوی شو، د کور په قیمتي شیانو یې زړه ورنغی، بلکې د خپل تره زوی خبرو یې په عقل واکمنې وکړه.

ماشوم به د خدیجه الکبری له غلام میسره سره کیناسته چې یې له خولې څخه په حیرانتیا د ابوالقاسم په اړه هغه خبرې واورې چې په تجارتي سفر کې یې لیدلې وې، خلک یې په بازار کې په خپل ښه ښوی او نرم مزاج اسیران کړي وو، میسره په ډېره پارونکي لهجه وایې ابوالقاسم د دې لپاره زېږېدلی دی چې په عربي ټاپووزمه کې له ټولو لوی سوداګر وي، امانتکارۍ یې د دې کار جوګه کړی ، علي که څه هم کشر دی، خو د خپل زړه په ژورو کې په دې پوهېږي چې د تره زوی یې د بل ستر کار لپاره پیدا شوی دی، هغه خو په دنیا کې زاهد دی، په شتمنۍ دومره نه خوشالېږي، تل یې نورو ته ورکوي، هغه د باران په څېر سخي دی، د وریځې په څیر سخي دی.

د ماشوم له وړاندوینې سره سم الله تعالی خپل رسول ټولو خلکو ته د بشیر او نذیر په توګه راولېږه، نو ده پرې ایمان راوړه او د الله په وحي کې یې ریښتونی کړ، کله چې به د لمانځه وخت شو، رسول اللهﷺبه د مکې درې ته راووت، لس کلن علي به ورسره هم له خپل پلار نه پټ راووت، یوه ورځ ابوطالب دواړه په لمانځه ولیدل، نو رسول اللهﷺته یې وویل:

– وراره دا کوم دین دی چې ته یې کوې؟

– ای کاکا دا د الله دین دی، د هغه د ملائکو دین دی، د هغه د رسولانو دین دی، زموږ د پلار ابراهیم دین دی، زه الله تعالی خپلو بندګانو ته د رسول په توګه رالېږلی یم، کاکا ته تر ټولو ډېر مستحق یې چې د دې دین په اړه تاته نصیحت وکړم او سمې لارې ته دې راوغوارم، حق هم دا دی چې ته مثبت ځواب راکړې او مرسته راسره وکړې.

– ای وراره، زه خو نه شم کولای چې د خپلو پلرونو دین پرېږدم. خو په خدای که زه ژوندای وم، هېڅوک درته پورته نه شي کتلی.

ماشوم تندی ترش کړ او خواشینی شو، د خپل پلار د مسلمانېدو تمه یې لرله، هغه هیله یې راکمه شوه چې د ابوطالب په اسلام کې یې لرله، ابوطالب پرته له دې مړ شو چې شونډې یې د شهادت په کلمه وخوځېږي، په دې یې باور و چې الله له دې څخه ډېر لوی دی چې کوم بشر دې پیغمبر راولېږي. کله چې هم علي ته خپل پلار وریاد شي چې په کفر مړ دی، مرۍ یې راډکه شي او اوښکې یې سترګې پرېمنځي.

ده خو هغه شپه د رسول اللهﷺپه بستره سبا کړه چې رسول اللهﷺهجرت کاوه، د هغه حضرمي څادر یې په ځان راخپور کړ، که څه هم په دې پوهېده چې قریش په دروازه کې ولاړ دي، چې ویده شي، ټول به پرې یو ګوزار وکړي او وبه یې وژني، سره له دې بیا هم وېرې د علي زړه ته لاره ونه کړه.

ډېر ارام او ډاډه و، هغه چې له کومې ورځې نه اسلام اعلان کړی دی، نو خپل ځان یې په دې روزلی چې سر یې له خپل خوږ نبي څخه قربان! رسول الله علیه السلا هجرت وکړ، علي خلکو ته د هغوی هغه امانتونه بېرته ورسپاري چې رسول اللهﷺته یې ورکړي و، په مکه کې نو داسې څوک نه و چې په کوم څیز به وویرېده او هغه به یې رسول اللهﷺته امانت ور نه کړ، ځکه چې هغه رښتونی او امانتکار و.

مدینې ته یې هجرت وکړ، په قباء کې دوه شپې پاتې شو، یوه مسلمانه بېوزله مېرمن یې ولیدله چې خاوند یې نه لره، په نیمه شپه کې به ورته یو څوک راغی، دروزاه به یې وروټکوله، هغه به ورته راووتله، دې سړی به یو څه ورکړل، هغې به ترې واخیستل، نو علي د دې کار په اړه حیران شو، په ښځه پسې ورغی، ورته یې وویل:

– ای مېرمنې، دا سړی څوک دی چې په نیمه شپه کې ستا دروازه ټکوي، ته ورته راوځې، تاته یو شی درکوي، نه پوهېږم چې څه شی درکوي او ته یوه مسلمانه مېرمن یې، خاوند نه لرې؟

– دا سهل بن حنیف بن واهب دی، هغه خبر شوی چې زه یوازې ښځه یم، څوک نه لرم، کله چې ماښام شي هغه د خلکو په بتانو پسې لاړ شي، مات یې کړي او بیا یې ماته د شپې راوړي چې په دې اور بل کړه.

د ده او د سهل ترمنځ ملګرتیا وه، په خوا خاطر کې یې نه ګرځېدله چې سهل به یې په لویه فتنه کې تر څنګ ودرېږي او په عراق کې په مري.

رسول اللهﷺد خپلو د مهاجرینو او انصارو تر منځ ورورولي وکړه، بیا یې علي له لاسه ونیوه او ویې ویل:

– دا زما ورور دی.

د زلمي زړه له خوښۍ ډک شو، د متقیانو امام او د رب العالمین استازي په ډک مجلس کې له علي سره وروري اعلان کړه، په العشیره غزا کې زلمی د عمار بن یاسر ملګری و، کله چې رسول اللهﷺورننوت، د خروب په چارو یې د بني مدلج څخه ځینې خلک وتاکل، علي ابن ابي طالب عمار ته وویل:

– ای ابوالیقظانه، خوښه دې نه ده چې دې خلکو ته ورشو. ویې ګورو چې څنګه کار کوي؟

– ستا خوښه.

دواړه ورغلل، یوه ساعت یې د هغوی کار ولیده، بیا پرې خوب راغی، دواړه لاړل د کجورو سیورو ته په خاوره ویده شول، رسول اللهﷺراویښ کړل، په دغه خاورو یې جامې خړې شوې وې چې دوی په کې پراته وو، هم هغه ورځ رسول اللهﷺعلي ته وویل:

– ابوترابه (د خاورې پلاره) څه کوې؟

ځکه چې په خاورو ککړ و، بیا یې وویل:

– ایا د دوزخ تر ټولو بدبخته دوه تنه درونه ښایم؟

– ولې نه، د الله رسوله.

– د ثمودیانو احیمر چې اوښه یې ووژله او علي بل هغه چې تا به په دې ځای وهي، په تندي یې لاس کېښود - تر دې چې دا او دا به دې ترې لمده شي - او ږیره یې ونیوه.

علي ته تر ټولو خوږه اسم کنیه ابوتراب ( د خاور پلار) و.

مسلمانان بدر ته ووتل، په دغه وخت کې مسلمانانو اویا اوښان درلودل چې دوی به پرې په نوبت سپرېدل، رسول الله علیه السلام، علي بن ابي طالب او مرثد بن ابی مرثد الغنوی په یوه اوښ پسې وو.

علي بن ابي طالب د بدر په جګړه کې ولید بن عتبه وواژه او په دې سره یې د هغه د خور هند بنت عتبه په زړه کې د کرکې تخم وکره، هغې به خپل زوی معاویه بن ابي سفیان د علي بن ابی طالب سره په کرکه روزوه. د قریشو هیڅ داسې کور نه و چې د علي د توري خرپ یې نه و خوړلی. پوره اوه دیرش کسان یې وژلي وو، ټول قریش د علي بن ابي طالب وینو ته ترږي ناست وو. د مکې له فتحې وروسته ټولو قریشو اسلام ومانه، نو د اسلامي ځوان سره د دښمنۍ لپاره کوم مجال پاتې نه شو او چې کله د عثمان بن عفان له مړینې وروسته د فتنې طوفان راوالوت،نو دې اور زاره غچونه او خښې شوې کینې راوویستلې چې علي کرم الله وجهه پرې وداغي.

د احد د جګړې په ورځ، مصعب بن عمیر له رسول اللهﷺنه په مېړانه دفاع کوله او د مهاجرینو بیرغ یې پورته کړی و، مصعب ووژل شو او رسول اللهﷺبیرغ علي کرم الله وجهه ته ورکړ، علي بیرغ پورته کړ، جګړې ته رامخکې شو او ویې ویل:

– زه ابوالفصم ( ماتونکي)یم.

نو سعدبن ابی طلحه ورغږ کړ، دی د مشرکانو د لواء مسئول و، په ملنده امیزه شکل یې وویل:

– ابوالفصمه. له ماسره دې جګړې ته زړه کېږي؟

– بلې.

دواړه د لیکو ترمنځ جګړې ته کوز شول، علي پرې ګوزار وکړ. طلحه یې راوپرځاوه، خو علي ترې ستون شو او مړ یې نه کړ، ملګرو یې ورته وویل:

– ولې دې مړ نه کړ.

– د هغه عورت ښکاره شو، له مایې د صله رحمې غوښتنه وکړه او زه پوهه شوم چې الله تعالی یې وژني.

غیشو ویشتونکو د رسول اللهﷺله امر نه سر غړونه وکړه، نو ماتې وخوړه، کله چې ابوسفیان بېرته وګرځېده، نو غږ یې وکړ:

– په راتلونکي کال کې به بیا په بدر کې ګورو.

رسول الله علیه السلام. خپل یو تن ملګري ته وویل:

– ورته ووایه هو، دا زموږ او ستاسې ترمنځ ژمنه شوه.

بیا رسول اللهﷺعلي ورولېږه او ورته یې وویل:

– دې خلکو پسې ووځه چې څه کوي، که له اسونو څخه کوز شوي وي او په اوښانو سپاره وي، بیا مکې ته ځي، خو که په اسونو سپاره یې او اوښان یې روان کړي وي، بیا په مدینه برید کوي، په خدای که د مدینې په نیت لاړل، نو هرومرو پسې ورځم او جګړه ورسره کوم.

علي ورپسې روان شو، په مسلمانانو یې زړه خوږېده، عبدالرحمن شل ټپونه خوړلي دي، زیات ټپونه یې په پښه خوړلي وو، ترې ګوډ شو، ابودجانه رسول اللهﷺته ځان سپر کړی و، په شایې غیشي لګېدل او ده په رسول اللهﷺځان ورټیټ کړی و، د قتاده بن النعمان سترګه ولګېده، بهر ترې راووتله، د رسول اللهﷺرباعي غاښونه مات شول. مخ یې ټپي شو، پر مخ مبارک یې وینې روانې وې.(اسدلله) حمزه بن عبدالمطلب ووژل شو، د مهاجرینو او انصارو ځینې خلک ووژل شول، مسلمانان زیات ستړي شول.

ابوسفیان او ورسره ملګرو یې اسونه پرېښودل. په اوښانو سپاره شول او مکې ته روان شول، نو رسول اللهﷺارام شو چې په مدینه کې د مسلمانانو او د دوی ترمنځ جګړه نه کېږي.

رسول اللهﷺخپل کور ته راستون شو، خپل حبیب او ورور یې علي بن ابي طالب ورسره دی، رسول اللهﷺخپله توره خپلې لور فاطمې ته ورکړه، ورته یې وویل:

– لورجانې له دې وینه ووینځه، په خدای نن خو یې ریښتونی کړم

علي هم خپله توره ورکړه او ورته یې وویل:

– او له دې یې هم ووینځه، په خدای نن خو یې راسره ځواني وکړه.

رسول اللهﷺوویل:

– که تا په ریښتوني جګړه کړې ده، نو له تاسره سهیل بن حنیف او ابودجانه هم په مېړانې جګړه کړې ده.

یوه شیبه چوپتیا شوه، بیا رسول الله علیه السلا علی ته وویل:

– مشرکان به نو نور موږ ته د مکې تر فتحې د دې مصیبت څېر بل مصیبت ونه رسوي.

رسول اللهﷺرښتیا ویلي وو، مشرکانو د مکې تر فتحې مسلمانانو ته دغسې بل کوم زیان وانه اړاوه.

محمد صلی الله علیه وسلم او ملګري یې

۱۹ ټوک حجه الوداع

**نور بیا...**

# په سمنګانو کې د ۱.۵ میلیونو افغانیو په لګښت لوړ تناژ دویمه تله فعاله شوه



د سـمنګانو د ټولګټو ریاست مسـوولین په یاد ولایت کـې د لوړ تنـاژ دویمې تلـې د فعالېـدو خبر ورکړی دی.

د یـاد ولایـت د ټولګټو رییـس انجنیر مـلا رییس آغا د باختـر آژانس خبریـال ته وویل، چې یاد ریاسـت د سـمنګانو- بلخ د مواصلاتي لارې د سـاتنې او څارنې پـه موخـه د ۱.۵ میلیونه افغانیو په لګښـت د لوړ تناژ تلـه نصب کړې ده.هغـه زیاته کړه، چـې د یادې تلې پـه رغېدو بـه دولت ته عوایـد راټول او د سـړکونو د ویجاړېدو مخه به هم ونیول شي.

د یادونې وړ ده، چـې په یاد ولایت کې د لوړ تناژ دوه تلې فعالې شوې دي.

## افزایش پرچوی‌های برق ...

برق سـخن می‌زنند.نثار احمد الیاس، سخنگوی والـی هرات در صحبـت با کلیـد می‌گوید که برای کاهـش پرچوی‌های برق، بایـد مردم در اسـتفاده از برق صرفه جویی کنند.”قسـمی که معلوم اسـت، هوا بسـیار گرم است. ما از مردم می‌خواهیم کـه صرفه جویی کنند. مـا اطمینان می‌دهیـم کـه مشـکلات وجـود نـدارد، اگر مشـکلاتی هم موجود باشد، مسـئولان برطرف می‌کنند.“در این اواخر افزایش پرچوی‌های برق در حالی نگرانی باشـندگان هرات را برانگیخته که مسـئولان می‌گویند بـا مدیریت مصرف برق و بـه کار گیری از همه سرچشـمه‌های انرژی، می‌کوشـند تـا پرچوی‌های برق را بـه حداقل برسانند.

## تېر کال د شېرخان بندر له لارې ۹۰۰ بهرني ...

کې چې د بهرنیو چارو په ریاسـت کې د ویزو صدور پیل شوی، د شېرخان بندر له لارې تراوسه ۹۰۰ بهرني وګـړي هېواد ته راغلي دي. عابـدي زیاته کړه، چې په ورځ کې تر لسـو پـورې بهرني وګـړي د بهرنیو چارو ریاست ته د ویزو اخیستو په موخه راځي او وروسته بیا خپل د خوښـې ولایت ته د سیاحت او تفریح په موخه سفر کوي. ورته مهال د د غه ولایت اطلاعاتو او کلتور په ریاسـت کې د ګرځندوی آمر محمد شعیب رحیمي باختر آژانس ته وویل، چې پـه تېر کال کې له امریکا، ایټالیـا، سـویډن او چېک هېوادونو څخـه ۶۰ بهرني سـیلانیان راغلي، چې کندز او د هېواد شـمال ختیځ زون ولایتونو ته په سفر راغلي دي. د هغه په وینا چې د دغو سـیلانیانو د سفر موخه یاد ولایت ته د سیاحتي او زیارتي سـیمو څخه لیدنه وه، چې په کې خبریالان هم شـامل دي.په ورته وخت کې بیـا د اطلاعاتو او کلتور رئیس مطیع‌الله روحاني وایي، چې د اسـلامي امارت په بریا سـره اوسمهال په افغانسـتان کې امنیت ډاډمن دی او بهرني سـیلانیانو ته هېڅ راز امنیتي ستونزه نشته او دوی کولای شـي بې له کومې وېرې افغانسـتان ته په سـفر راشـي او د دغه هېواد له مختلفـو ولایتونو په ځانګړي ډول له کندز څخه لیده کاته کولای شي.اخوا دوه بهرني سـیلانیانو لـه باختر آژانس سـره په خبرو کې وویل، چې د افغانسـتان اوسـني نظام کې امنیت د ډاډ وړ دی او مـوږ بې له کومې وېـرې د دغه هېواد ګوټ – ګوټ ته په ارامه او ډاډمنه فضاء کې خپل سـفر کولای شو.

## د ډالر په ټیټېدو سره لا هم د خوراکي ...

دې په پام کې ونیسي او په بازارونو کې د خوراکي توکـو د بیې د کنټـرول په برخه کـې لا ډېره هڅه وکـړي. د کابل شـهزاده سرای صرافانـو ټولنه د بهرنیو اسـعارو پـر وړاندې د افغانیو د ارزښـت لوړېدل د هېواد د اقتصاد په ګټه بولي.

دغه ټولنه زیاتوي چـې اوس‌مهال په بازارونو کې یو امریکایـي ډالر ۸۴ افغانـۍ او ۱۰ پوله تبادله کېـږي. ورتـه مهال د کابـل د منډوي یو شـمېر هټـۍوال وایي چـې ځینې سـوداګر د خوراکي توکـو د بیې په لـوړوالي کې لاس لـري. د کابل ښـاروالۍ بیا پـه بازارونو کـې د خوراکي توکو د بیو د کنټرول خـبره کوي او زیاتوي چې د نرخونو تـاکل د کورنیـو او بهرنیـو اسـعارو د تغییراتـو پر بنسټ دي.

## حکومت هڅه کوي په بانکي سکتور لګول ...

لرې کړي او له امریـکا او نړیوال بانک سره خپلې اړیکې عادي کړي. بلخوا د اقتصادي چارو کارپوهان وایي، کـه له هېواده د بانکدارۍ بندیزونه لرې شي، د پانګه والو لپاره به اسـانتیاوې رامنځته شي. چې دا کار بـه د هېواد پر اقتصاد مثبـت اغېز وکړي. په ورته وخت کې شـېر محمد عباس ستانکزی وایي، چې د سرپرست حکومت په واکمنېدو سره په هېواد کې ډاډمن امنیت رامنځته شوی او ملي او نړۍ‌وال سـوداګر کولی شي، پـه بېلابېلو برخـو کې بې له کومې ستونزې پانګونه وکړي.

## تېر کال افغان لوبغاړو بهرنیو ...

تشـویقي، مناسـبتي او رسـمي سـیالۍ ترسره شـوې دي. سرچینې زیاته کړې، چې افغانسـتان د بېلابېلـو ورزشي څانګـو لوبغـاړو پـه تېر یوه کال کـې ۴۹ بهرنیو سـیالیو کې ګـډون کړی او پـه پایله کې یـې افغان لوبغـاړو ۲ د سرو زرو، ۱۰ د سـپینو زرو او ۱۰ د برونـزو مډالونه ګټلي دي. سرچینـې ویلي، چـې تېر کال پـه پلازمېنه کابـل کې د والیبال، فوټبال، فوټسـال او وزلوبې غـوره لیګونـه پـه بریالیتوب سره ترسره شـوي دي.

## دیني عالمان د اسلامي نظام د ستنو ...

ښـوونې او روزنې، مواصلاتي لارو او روغتیا ته لاسرسـی د خلکو اساسي حقوق وګڼل او وې ویل، اسلامي امارت د خپل توان په حدودو کې هڅه کوي چې پورته ذکر شویو ستونزو ته رسېدنه او د هغو د حل په برخه کې اقدام وکړي.

## کندهار کې ۳۰ نویو کارخونو فعالیت ...

د هېـواد په کچه فعالیت پیل کړی، د سـمنټو او ټوکر جوړولو فابریکو سـاختماني چارې روانې دي، چې د هېواد په کچه به سـترې فابریکـې وي.هغه زیاته کړه، د اسـلامي امارت د راتـګ څخه مخکې پـه صنعتي پـارک کې فابریکـې د بندېدو په حـال کې وې، اوس د صنعتکارانـو د سـتونزو په حل کېدو سـره د بندېدو د مخنیوي ترڅنـګ د فعالېدو په شـمېر کې زیاتوالی راغلی دی.اماني وویل: «موږ په لسـو سکټورونو لکه پي وي سـي پیپونو، د میوو جالۍ، پلاستیکي اجناسو، چپلکـو او بوټونـو، لبنیاتو، د اوسـپنې ویلـي کولو، زراعتي سـامان الاتو، صابون او شـامپو برخو کې په ځان بسـیا شـوي یو او کولای شـو د نـورو هېوادونو سـره په یادو اجناسـو کې رقابت وکـړو.»د صنعت او سوداګرۍ رئیس د اسلامي امارت له اړوندو مسوولینو وغوښـتل، تر څو په یادو برخو کـې د وارداتو مخنیوی وکـړي.د هغه پـه وینا لـه صنعتي پـارک څخه اوس مهـال صابونونه، جوس او لنده مېـوه نورو هېوادونو ته صادرېږي.

## به منظور ایجاد سهولت نمایندګی خود ...

مشکلات بودند٬ ریاست احصائیه و معلومات میگوید: روی ایجـاد این دفتر تفاهمنامه را بـا وزارت امور داخله امضا کرده اسـت ومنعبد روند تائیـد تذکره کاغذی در داخل ریاست پاسپورت انجام خواهد شد.

## گزارش های سازمان ملل باید واقعبینانه...

و تصویرهای ماهواره تأیید شـده است و اینکه تلاش میشود برای کشـاورزان در بخش بدیل کشت خشـخاش کمک ها جلب شود٬ یک حرف نیک است. سرپرست وزارت امور خارجه از کمک‌های کشورهای مختلف سـپاس‌گزاری نمود و در مورد گزارش‌هایی که گویا حکومت افغانستان از کمک‌های بین‌المللی بهره می‌گیرد، گفت: امارت اسلامی محیطی مناسـب را برای توزیع شفاف و مستقلانۀ کمک‌ها آماده ساخته است و از بودجۀ حکومتی برای هزاران بیوه، یتیم، نیازمند و معلول کمک می‌کند.مولوی امیر خان متقی در رابطه بـه گزارش‌های ملل متحد که در موارد مختلف در باره افغانسـتان نشـر میشود بیان داشـت که این گزارش‌ها با گفتار مناسب و با در نظرداشـت واقعیت‌ها طوری تهیه شوند که در آن جنبه اصلاحی مدنظر باشـند و تصویری واقعی از افغانسـتان ارائه شـود.در اخیر دوطرف روی تداوم چنین نشست‌ها برای هماهنگی بهتر در راستای تعامل با یکدیگر تأکیدنمودند.

## افغانستان خانه ی همه...

شماری از مبصرین سیاسـی درمورد نظریات متفاوتی دارند.مقصود حسن زاده، یکتن از مبصرین سیاسی می‌گوید:“امریکا درتلاش است تا قضایای سیاسی افغانستان را ازطریق دیپلوماتیک حل کند و یک راه آن این است که سیاسیون دست از مخالفت بکشند و با امارت اسلامی همکار باشـند.“درعین حال محمد هاشـم قیام، دیگر مبصر سیاسی این‌گونه دیـدگاه دارد:“خلیلزاد می‌خواهد که با این‌گونه اظهارات خود را در خصـوص وضعیت موجـود کامیاب جلوه دهد، ازسـویی هم نقش خود را در ثبات افغانسـتان با ترغیب مقام‌های حکومت پیشین و بازگشـت آنان به کشـور مهم نشـان دهد.“زلمی خلیل‌زاد درحالی خواستار برگشت مقام‌های پیشین به افغانسـتان است که تاکنون آنان تمایلی به برگشت نشان نداده و کارکردهای گذشته آنان نیز با انتقادات روبه‌رو است.

## افغانستان کې داخلي او بهرنی پانګونې...

او داسـې سرتاسـري امنیت یې ور په برخه کړ چې دوی یې له لسیزو ارمان کاوه.نوموړي وویل، چې په تېرو شلو کلونو کې د افغانانو او په ځانګړي ډول ملي سـوداګرو او پانګوالو د سر او مال امنیت خوندي نه و، خو له نېکه مرغه د اسـلامي امارت په راتګ سره یې امنیت خوندي شـوی او اوس په ډاډمنه فضا کې خپل کاروبار کوي.د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، چې په افغانسـتان کې د واحد مرکزي نظام په راتلو سـره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیانو ته هم د پانګونې زمینه برابره شـوې، چې ښه بېلګه یې د هرات د غوریانو په کان کې له افغانانو سره د اروپایي او آسیایي پانګوالو په مشارکت د قراردادونو ترلاسـه کول او پانګونه ده.برادر اخوند د یاد کنفرانس پر مهال د اسـلامي امارت له لوري پانګوالو ته د رامنځته شویو آسانتیاوو په اړه وویل، چې د سـوداګرو او پانګوالو د ملاتړ او اقتصـادي ودې په موخه د اقتصادي کمېسـیون په ناستو کې د پانګوالو اسـتازي ګډون کوي، په دولتي ادارو کې د پانګوالو او سـوداګرو د چارو د ژر ترسـره کېدو او بیروکراسـۍ د مخنیوي پـه موخه د اقتصادی معاونیت تر چتر لاندې لـه ټولو وزارتونو او ادارو څخه ګډه کمېټه جوړه شـوې، د کانونو د اسـتخراج په برخه کې کورنیو پانګوالو ته لومړیتوب ورکړل شـوی او همدارنګه د عالیقـدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله په هدایت د افغانسـتان د ملي اقتصادي مشـورتي بورډ د جوړولو چارې روانې دي، چې د سوداګرو او پانګوالو استازي هم پکې حضور لري.

ملا عبدالغني بـرادر اخوند د یادې غونډې په پای کې وویل، افغانسـتان له سـمتي، قومي او ژبني تعصب پرته د ټولو افغانانو ګـډ کور دی او ټول یې د آبادولو مسوولیت لرو.نوموړي وویل:(زه په ترکیه کې له مېشتو افغان پانګوالو پوښـتنه کوم چې نور په خپل کور کې کوم ډول شـرایطو او زمینه سـازۍ ته انتظـار کوئ راځئ دا کور په ګډه جوړ کړو او ولس مو له ناورین او د پردیو له احتیاجه خلاص کړو.)

## حقانی به تکمیل شدن پروژه های نیمه...

برادری، دوسـتی، اخـلاص واعتماد باهـم زند گی کننـد و اولاد های خود را با روحیه اسـلامی و انسـانی تربیه و تعلیمات دینی را برای شـان آمـوزش دهند. حقانـی افزود که کوشـش می نماییم همه پـروژه های بنیادی مثل مرکز صحی، مکتب، سـرک و پل و پلچـک هایی را که نیمه تمام باقی مانـده ، درهماهنگی با ادارات ذیربط تکمیـل نمائیم. او برای سـاخت این مسـجد ۵۰۰ هزار افغانی کمک کرد. باید گفت: مسـجد اقصی، درسـاحه ۵ بسـوه زمین در ولسـوالی شـواک، طورپخته اعمار می شود.

## قرغزستان غونډه کې د افغانستان پر ملاتړ ...

پـر اغېزونو او پـه دې اړه د دوی د همکارۍ پر فرصتونو خبرې شـوې. په اعلامیـه کې راغلي چې سـیمه او نړیواله ټولنه اړ ده چې د داسـې متحد، خپلـواک، با ثباته او پر ځان بسـیا افغانسـتان ملاتړ وکـړي چې ترهګري پکې نه وي او د ښـځو او نجونو په ګډون یې د ټولو وګړو حقونو ته درناوی کېږي او له ځان او خپلو ګاونډیو هېوادونو سـره په سوله کې وي. د غونډې ګډونوالو په افغانسـتان کې بشـري او اقتصادي وضعیـت هم جدي بللی چې د نړیوالـې ټولنې قوي او همغږې غبرګون ته اړتیا لـري او په تېره بیا د بشردوسـتانه فعالینو لپاره یې د بشردوستانه اصولو، بې طرفۍ، او خپلواکۍ د اصولـو په رڼـا کې ټولـو اړمنو افغانانو ته د بشـرپالانو لاسرسـی اړین بللی.

## ۱۲ ولسوالیو ته مخابراتي خدمات...

ولایتونـو په شـولګره، کلـدار، چهاربولک، قوشـتیپه، سـوزمه قلعه، سـنچارک، قیصار، خان چهار باغ، شهري سرپل، شهري میمنه، شهري شبرغان، شهري مزارشریف ولسـوالیو او مرکزونو کې د مخابراتو شبکو سـتونزې حل کړي.د ښـاغلي نعماني په وینا، په ښـارونو کې د غیرې قانوني سیم کارتونو مخنیوي شـوی او له دې وروسته به سیمکارټونه په بریښنایي پېژندپانو اخیستل کېږي.

## له دې وروسته به د کانکور ازموینې په ...

پر مهال کړې دي.هغه ویلي، پر داسـې پرګـرام یې کار پیل کړی چې په راتلونکي کې د کانکور ګډونوال اړ نه شـي چې له لرې سیمو څخه حضـوري ګډون وکړي او په وینا یې، ټول ګډونوال به د ټلیفون له لارې په ازموینه کې په انلاین بڼه برخه واخلي.ده زیاته کړه:«هغه کسان چې اوس په ازموینه کې حضوري ګډون کوي، تر دې وروسـته به په انلاین بڼه ازموینه ترې اخیسـتل کېږي. پر یو سیسـتم مو کار پیل کړی چې د ټلیفون له لارې بـه زده کوونکي په دې ازموینه کـې برخه واخلي.»د ازموینې برخه‌وال هم له دغې پروسـې څخه خوښ دي او زیاتوي چې له همدې لارې به وکولای شي چې په ډېرې اسانۍ له لرې سیمو څخه د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړي.احسـان الله وایي:«که په انلاین ډول له فارغو شـویو زده کوونکو څخه ازموینه واخیسـتل شـي، دا به زموږ لپاره ډېرې اسـانتیاوې رامنځته کړي.»سـږکال په ارزګان ولایت کې له ۴۴۴ دولسـمو ټولګیو له فارغو شویو زده کوونکو او۲۰۰ دیني عالمانو څخه د کانکور ازموینه واخیسـتل شـوه.د ارزګان د لوړو زده کړو موسسـې رییس مولوي رحمت الله رحماني په کانکور کې د پوره شـفافیت ډاډ ورکړی.ده زیاته کړه:«امتحان به شـفاف وي، هېڅ ډول درغلـي به په کې نـه کېږي. موږ د ازموینې ملـي دارې ته ډاډ ورکوو، څـه ډول چې د دوی اصـول دي، په هغه ډول به زموږ امتحان سـرته رسـېږي.»د نـورو کلونو په پرتله سـږکال په ارزګان کـې د کانکور په ازموینه کې د ښوونځیو د زده کوونکو شمېر کم رنګه وه.

## ستونزې په ګډه هوارېدای...

د اسـلامي امارت لاس ته راوړنې د تېرو کلونو د مرسـتو او لاس ته راوړنو سره پرتله کړي. ډاډه یو چې د اسـلامي امارت د اوسـنی سـتراتیا ډک مزل به په بري سره سرته ورسېږي او د افغانانو ستونزې چې لاس وهونکـي هېوادونه ورته لمن وهي حللارې ومومي. باید ومنـو چې د شـل کلنې جګړې د سـتراتیا ترڅنګ د اشـغالګرو او مافیایي کړیو له خوا راپاتې شـویو سـتونزو رغاول بـه په لنډ مهاله کې ستونزمن وي،خو د اسلامي امارت د مسئولینو د بي ساري او نه ستړي کیدونکو هلو ځلو له امله به پر ستونزو د بري اوږد مهاله لاره رالنډه او د پردیو له مرسـتو څخه به د خلاصون هڅې ګړندۍ شي. ښـه به وي چې هېـوادوال له زغم څخه کار واخلي او له اسـلامي امـارت سره د هر ډول سـتونزو په رغونه کې ټګـي برګي ونه کړي ترڅو په ګډه د دې هېواد په ترقۍ او آبادۍ کې برخه واخیستل شي.

Shariat Daily

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

Sunday 13 August 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 242

# امیر خان متقی : گزارش های سازمان ملل باید واقعبینانه باشد



سرپرست وزارت امور خارجه در دیدار با رئیس یوناما گفت: گـزارش هایـی که از سـوی سازمان ملل متحد تهیه میشوند' باید واقعبینانه باشـد و تصویر واقعی از افغانستان به جهانیان ارائـه کنند.دفتـر مطبوعاتـی وزارت امور خارجه با نشر این خبر گفته است : مولوی امیرخان متقی سرپرسـت وزارت امور خارجه با خانم روزا اتونباییفا، رئیس یوناما و مسئولان بخش سیاسـی ملل متحـد در کابل دیدار کرد.دریـن دیدار روی تداوم و تحکیـم تعامل مثبت میان امارت اسـلامی افغانستان و کشورهای عضو سازمان ملل متحد، مبارزه علیه مواد مخدر، گزارش‌های ملل متحد در مورد افغانستان و سـایر موضوعات بحـث شـد. خانـم اتونباییفا مبارزه،امارت اسلامی افغانستان درمقابـل مواد مخدر را مؤثر و متقاعد کننده خواند و گفت که مؤثریت محدودیت بالای مواد مخدر در افغانستان' با گزارش های نهادهـای تحقیقاتی بی طرف ص۵

# ستانکزی: حکومت هڅه کوي په بانکي سکتور لګول شوي بندیزونه لرې کړي





له شاوخوا دوو کلونو راپدېخوا هېواد کې پر بانکي راکړه ورکړه د لګېدلـو بندیزونـو لـه امله پانګه والـو ته ګنې سـتونزې رامنځته شـوي. د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرسـتیال شېر محمد عباس سـتانکزی وایي، سرپرست حکومت هڅه کوي، چې پـه بانکي سـکتور لګول شوي بندیزونه ۵مخ

## المپیک کمېټه: تېر کال افغان لوبغاړو بهرنیو سیالیو کې ۲۲ مډالونه ګټلي



د المپیک ملي کمېټې، بدني روزنې او سپورټ عمومي ریاست چارواکو ملت تـه د دولت حسـاب ورکولو پروګرام کې و ویل چې د یادې ادارې لـه لورې د تېر یوه کال په موده کې د هېواد په کچه ۳زره ۵۸۶ ۵مخ

## کابل ښاریان:
# د ډالر په ټیټېدو سره لا هم د خوراکي توکو بیې لوړې دي



د کابـل اوسـېدونکي وايي د دې سربېـره چـې د ډالرو نـرخ د افغانیـو پـر وړاندې کموالـی موندلـی؛ خـو په بازارونو کې د خوراکي توکو په بیه کـې هېڅ بدلون نه دی راغلی. د کابل اوسـېدونکي لـه چارواکو غـواړي چې د خلکو کمزوري اقتصاد ۵مخ

# په زندانونو کې ۱۶ زره کسان بندیان دي

د زندانونو چارو د سمون ادارې چارواکـو ملت تـه د دولت د حسـاب ورکولـو پروګرام کې وویل چې دغـې ادارې ته ۳۲ زره کسـان سـپارل شوي، خو نیمايي برخه یـې د محاکمو د پرېکـړې او فرمانونو له مخې بېرته خوشې شوي او دمګړۍ شـاوخوا ۱۶ زره تورن کسان پـه بند خونو کـې بندیان دي. د یـادې ادارې چاروا کـو دغه راز وویـل چې په بندخونو کې بندیانـو ته د ښـوونې او روزنې لړۍ پیـل شـوي او دغه بهیر په ښـه توګه روان دی. د دغې ادارې مسـؤلینو په خپلو خبرو کې وویل چې هېواد ته د بهرنیو هېوادونـو په بندخونـو کې د بندي افغانانـو د را انتقالولو په موخه هڅې رواني دي.

# افزایش پرچوی‌های برق در هرات

شماری از باشندگان ولایت هرات از افزایش پرچوی‌های برق در این شب و روزهای گرم شکایت دارند. آنان با انتقاد از افزایش پرچوی‌های دوامـدار بـرق، می‌گوینـدکـه این روزها در یک شـبانه روز تنها ٦ تا ۷ ساعت برق دارند و دیگر وسایل وسایل سرمایشـی خاموش باشد و بیشـتر مریضی‌هـا را بـه وجود بیاورد."محمد احمـدی، یکی از کتـاب فروشـان هـرات می‌گوید که تمام کتاب‌هایش درج سیسـتم کمپیوتری است و پرچوی‌های برق کار وی را دشـوار می‌سـازد."تمام



خنک کننده شان خاموش می‌باشد. عبدالله احمدی، یکی از باشندگان هرات معضـل پرچوی برق در این ولایـت را تقریبا دایمی دانسـته و می‌گوید کـه این مشـکلات باید به گونۀ اساسـی حل شود."در این اواخـر در هرات مشـکلات برق زیاد شـده، این باعث می‌شـود که کتاب‌های مـان در سیسـتم ثبت است. وقتی مشتری بیاید ما به دلیل نبود برق نمی‌توانیم کتاب مورد نظر را در اختیارش قرار بدهیم. مشتری باید منتظر بمانـد تا برق بیاید."در همین حـال مسـئولان محلی در هـرات از تلاش‌هـای شـان برای کاهش پرچوی‌های ص۵

# تېر کال د شېرخان بندر له لارې ۹۰۰ بهرني وګړي افغانستان ته راغلي





د کنـدز د بهرنیـو چارو ریاسـت مسـوولین تېر کال د شېرخان بندر له لارې هېواد ته د اروپا، امریکا او آسیایي هېوادونو شخه ۹۰۰ بهرنیو وګړو د راتګ خبر ورکوي.
د دغه ولایت د بهرنیو چارو ریاست د کنسول آمر قاري عبیدالله عابدي له باختر آژانس سـره پـه مرکه کې وویل، په تېر یوه کال ۵مخ

# ۱۵ بهرنیو سیلانیانو له غزني لیدنه کړې



د غزنـي د اطلاعاتـو او کلتـور ریاست مسوولین وایي، چې دغه ولایـت ته ۱۵ بهرني سـیلانیانو د تاریخـي او طبیعـي ځایونو د لیدو په موخه سفر کړی دی.یادو سـیلانیانو د غزنـي د اطلاعاتو او کلتـور لـه رئیس مـلا حمید الله نثار سـره په کتنه کې وویل، چې دلتـه د ډاډمن امنیـت د دې سبب شـوی؛ ترڅو له بهر څخه سیلانیان افغانستان ته راشي او له زیاتو تاریخـي او طبیعي ځایونو څخه لیدنـه وکړي.ورته مهال په دې کتنه کې نثار سـیلانیانو ته د غزني د تاریخي او طبیعي سیمو پـه اړه معلومات ورکـړل او ویې ویل چـې پـه داډه زړه هرځای ته سـفر کولای شي.د یادونې وړ ده، چـې د سـیلانیانو په دې ډله کې ۵ ښځې هم شـاملې دي او یاد سـیلانیان د پولنډ، آسترالیا او روسیې هېوادونو وګړي دي.

# رویدادهای خارجی

## مدیترانه کې له ۶۰۰ ډېر کسان ژغورل شوي



په مدېتراني سمندرګي کې د ژغورنې وایکنګ اوشین کښـتۍ د تېرو ۴۸ سـاعتونو پـه جریان کـې له ۶۰۰ ډېـر کډوال ژغورلـي دي. د اس او اس مدېترانـې سـازمان وایي چې وایکنګ اوشـین، دغه شمېر کسان پـه ۱۵ ماموریتونـو کـې ژغورلي دي.د ژغورنې یاد اروپایي سـازمان پر اکس شـبکه چې پخوا پر ټویټر پېژنـدل کېده، ولیکل چـې تر ټولو ډېر کسـان د تونس د صفاقس او د ایټالیا د لامپدوسا جزیرې تر منځ لار کې ژغورل شـوي دي. دغه سازمان زیاته کړې چې د نجات ماموریتونه ایټالوي چارواکو تنظیم کړي وي.د اس او اس مدیترانـې پـر اسـاس، پـه مجموع کې د ۱۵ ماشـومانو او ۱۴۶ بې سرپرسته کشرانو په ګډون ۶۲۳ تنـه ژغورل شـوي دي. دوی د سـوډان، ګینیا، بورکینا فاسـو، د عاج سـاحل، بنیـن او بنګله دیش هېوادونو څخـه دي.د آلمان خبري آژانس د یاد مرسـتندوی سازمان له قولـه په خپل رپوټ کـې وایي چې ژغورل شوي کسـان روغ رمټ دي او په اوشـین وایکنګ کښتۍ کې تر مراقبت لانـدې دي. په پام کې ده د ژغورل شوو کسـانو څخه یو شمېر یې وروسـته د لامپدوسا ساحل او نور یې د ایټالیا پلازمېنې روم شمال غربي سېمې، چیویتاوکیا، ته انتقال شي.اروپا ته پر خطرناکو سمندري لارو د قاچاقي مهاجرتونو شمېر هر کال ډېرېږي. هر کال په سلونو کسان د کښـتیو د ډوبېدو یا اوښتو له کبله چې معمولا له حده ډېر کسان په کې سپرېږي، خپل ژوند له لاسه ورکوي.

## فروریختن مسجدی در شمال نایجریا هفت کشته بر جا گذاشت



در نتیجه‌ی فروریختن بخشی از یک مسجد در شهر شمالی زاریا در ایالت کادونای نایجریا، هفت تن جان باخته و چندین تن دیگر زخمی شده اند. شـبکه‌ی خبری الجزیـره، دیروز با پخش گزارشـی گفته اسـت که در این مسجد، صدها نمازگزار حضور داشتند.عبداللهی کوربای،سخن‌گوی شـورای امارت زاریا، گفته است این رویداد روز گذشته، هنگامی رخ داده که نمازگزاران در مسـجد مرکزی این شـهر، نماز جمعه را ادا کرده بودند. او گفته اسـت: «در ابتدا چهار جسد یافت شده و پس از جست‌وجوی تیم نجات در مسجد فروریخته، سه جسد دیگر نیز یافت شده است.» هم‌چنان ۲۳ زخمی رویداد به شفاخانه منتقل شده اند. بر اساس گزارش‌ها، گواهان رویداد گفته اند کـه «ناگهان بخش آسیب‌دیده‌ی مسجد بر روی کسانی که مستقیماً زیر آن نشسته بودند» فرو ریخته است. ویدیوهایی پخش‌شده در رسـانه‌ها و شبکه‌های اجتماعی، نشـان می‌دهند که بخـش بزرگی از سـقف این مسجد فرو ریخته است. اوبا سـانی، والـی کادونا، دسـتور بررسی‌های فوری در باره‌ی این رویداد را صادر کرده و وعده سـپرده است به کسانی که از این «رویداد دلخراش» آسـیب دیده انـد، کمـک خواهد شـد.بر بنیاد گزارش‌های رسانه‌های بین‌المللی، بیش از ۱۲ ساختمان تنها در سال گذشـته‌ی میلادی، در غرب افریقا فرو ریخته است.علت بیش‌تر این رویدادها، ناتوانی مسـئولان در اجرای مقـررات ایمنی و نگه‌داری از ساختمان و استفاده از مواد ساختمانی بی‌کیفیت، عنوان شده است.

## روسیه: د واشنګټن بندیزونه مسکو نه شي کمزوری کولی

د امریکا متحده ایالاتو د خزانې وزارت پـه یو تـازه اقدام کې ځینې روسـي سـوداګر او ادارې په خپل تور لېست کې شـاملې کړې دي.واشنګټن دغه نوي بندیزونـه ورمه ورځ اعلان کړي او مسـکو یې په غبرګون کې ویلي، چې دغه ډول بندیزونه روسیه نه شي کمزورې کولی او دغه ګام یې د امریکا متحده ایالاتو د کمزورۍ نښـه بللې ده.د روسـیې تاس خبـري اژانس په واشنګټن کې د روسیې د سفیر اناتولي انتونوف له قوله ویلي، چې هېواد یې یو پیاوړی اقتصاد لري او دا هغه موضوع چې د نړیوال بانک له لوري هم تایید شـوې ده.د امریکا متحـده ایالاتو د خزانې وزارت پـه دغو نویو بندیزونو کې د روسیې څلور ملي سوداګر هر یـو میخایل فریدمـن، جرمن خان، پویټر ایون، الکسي کېزمشیو او د دغه هېواد د صنعت کارانو او متشبثانو ټولنه په کې شامله ده.باید وویل شي، چې واشنګټن او مسکو مخکې تر دې هم پر یو او بل یو لړ سیاسي، اقتصادي او نور بندیزونه لګولي دي.د یادونې وړ ده، چې روسیه او امریکا اوس مهال د اوکراین د جګړې له امله له یو بل سره ژور اختلافات لـري او دغه نانډرۍ ورځ تربلې مخ په زیاتېدو دي.امریکا په یاده جګړه کې د روسـیې په مقابل کې د اوکراین پوځي ملاتړ کوي او تر دا مهاله یې له کیف سره د میلیاردونو ډالرو په ارزښت مرسته کړې.

